

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۳۰ | مسلسل نمبر: ۱۲۰

چهارشنبه، د جمادی الأولی ۷مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال




## سرلیکنه

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د عقرب میاشتې په دوهمه نیټه، د سعودي عربستان «دلتا انټرنشنل» کمپنۍ له اجرائیوي رئیس شاهر التقي سره په لیدنه کې د ګازو د اکتشاف، استخراج او د ګازو د نل لیکو غځولو په اړه خبرې وکړې. د یاد شرکت اجرائیوي رئیس د افغانستان د نفتو او ګازو په برخه کې د پانګونې له پاره لېوالتیا څرګنده کړه.

افغانستان کې د نورو طبیعي زیرمو ترڅنګ د تیلو او ګازو پرېمانه ذخیرې شته دي، که دغه زیرمې د شته معیارونو په نظر کې نیولو سره وسپړل شي، بې له شکه چې دا چاره د اقتصاد پـه وده او پرمختیا کې ګټوره تمامیدای شي. بله دا چې د ګازو اکتشاف، استخراج او نل لیکو غځولو کې پانګونه د اقتصادي ګټې تر څنګ چاپېریالي، امنیتي او ټولنیز ارزښتونه هم زیاتوي.

د کانونو اکتشاف او استخراج برخو کې د کورنیو پانګوالو ترڅنګ بهرني پانګوال هم دې ته وهڅول شي چې پر طبیعي زیرمو او کانونو پانګونه وکړي. بهرنۍ پانګونـه د یوه هېواد پـه اقتصادي وده کې مرسته کوي. بهرنۍ پانګه په کوربه هېواد کې نوي کاري فرصتونه رامنځته او د بې کارۍ کچه راټیټوي، یـاد هېواد ته نوې ټیکنالوژي او مسلکي بشري قوه لېږدوي، د کارګرو د تولید کچـه زیاتوي چې دا د سوداګرۍ د ودې لامـل ګرځي. کله چـې دا ټول رامنځته شي، نو بیا د خلکو د ژوند کچه لوړېږي،

اقتصـادي پراختیا رامنځته کېـږي او په پایله کې د اقتصـادي ټیکاو پـر رامنځتـه کېـدو تمامیږي.

اوسـمهال په افغانسـتان کې د ګازو د لېږد د مهمې پروژې تاپي چارې پیل شـوې او تر ډېره بریده پرمخ تللـي دي. که چیرې د تاپي پـروژې په څېر مورږ په خپل هېواد کې شته ګاز استخراج کړو، نو کولای شو له اړتیا زیـات یې هغو هېوادونو تـه صادر کړو چې ګازي انـرژۍ تـه اړتیا لري او پـه دې سره به زموږ اقتصـادي، چاپیریالي او امنیتـي اړخونه خوندي او پرمختګ به وکړي.

اوس چې د سعودي عربستان د دلتا سترې او نړیوالې کمپنۍ په افغانسـتان کې د ګازي زېرمو په راسپړلو کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده، دا د افغانستان له پاره په اقتصادي لحاظ یوه ستره لاسـته راوړنه ځکه بلل کیږي چې افغانسـتان به د داسې پانګونې پرمټ وکـولای شي خپلـې ترڅمکه لانـدې ګازي زیرمې استخراج او پرمټ یې به هېواد کې د انرژۍ په برخه کې شته سـتونزې هوارې کړي. بله دا چې د داسې نړیوالـو کمپنیو په پانګونې سره به دې ته زمینه برابره شي چـې دې کمپنۍ ته ورته نـورې نړیوالې کمپنۍ هم په افغانسـتان کې پانګونې ته مخه کړي. په دې سره به موږ وکولای شـو، خپل صنعت ته وده ورکړو، کاري فرصتونـه بـه برابره کړو، لـه طبیعي زیرمو او کانونو څخه ترلاسـه شـوي عواید به د افغانستان پر زېربناوو ولګوو او په ټوله کې به خپل اقتصاد پیاوړی او خپلواک کړو.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له اجرائیوي رئیس سره وکتل



۲ صفحه

## اقتصادي کمېسیون د دوه میلیارده او ۲۷۴ میلیون افغانیو په ارزښت د پانګونې لس طرحې تایید کړې



۲مه صفحه

## تلاش افغانستان برای راه‌های بدیل تجارت با پاکستان



۴مه صفحه

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له اجرائيوي رئيس سره وکتل



د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د عقرب مياشتې په دوهمه نېټه، د سعودي عربستان «دلتا انټرنشنل» کمپنۍ له اجرائيوي رئيس شاهر التقي سره په داسې حال کې وکتل چې د امريکا پخواني ځانګړي استازي زلمي خليلزاد هم حضور درلود. په دې ليدنه کې دواړو لورو د ګازو د اکتشاف، استخراج او د ګازو د نل ليکو غځولو په اړه خبرې وکړې.

د ياد شرکت اجرائيوي رئيس د افغانستان د نفتو او ګازو په برخه کې د پانګونې له پاره لېوالتيا څرګنده کړه او ژمنه يې وکړه چې له افغان انجنيرانو سره به خپلې تجربې شريکې کړي.

## اقتصادي کمېسيون د دوه ميلیارده او ۲۷۴ میلیون افغانیو په ارزښت د پانګونې لس طرحې تاييد کړې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کميسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د عقرب مياشتې په څلورمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. د اقتصادي کمېسيون دې غونډې ته له اجنډا سره سم په مختلفو ولايتونو کې د شاوخوا دوه ميلیارده او ۲۷۴ میلیون افغانيو په ارزښت د پانګونې لس طرحې د تاييد لپاره وړاندې شوې، چې له هراړخيزې ارزونې وروسته تاييد شوې.

په دې طرحو کې د تخار ولايت په خواجه غار ولسوالۍ کې دوه پوريز سوداګريز مارکېټ ، د جوزجان ولايت په مرکز شبرغان ښار کې د پنځه پوريز سوداګريز مارکيټ ، د خوست ولايت په مرکز خوست ښار کې د لس پوريز سوداګريز مارکيټ ، د لغمان ولايت په مرکز مهترلام ښار کې د پنځه پوريز مارکيټ ، د کابل ښار په يوولسمه ناحيه کې د اته پوريز سوداګريز مارکيټ او د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د اته پوريز سوداګريز مارکيټ جوړول دي. په دې طرحو کې د کابل ښار په لسمه ناحيه کې د ۲۰ پوريزې سوداګريزې او استوګنيزې ودانۍ جوړول، د ننګرهار ولايت د مرکز جلا آباد ښار په وچ ډنډ سيمه کې د څمکتلې سوداګريز مارکيټ جوړول او د هرات ولايت په اسلام کلا سوداګريز بندر کې د سوداګريز کمپلکس جوړول چې د اړتيا وړ ټول امکانات به ولري شامل دي. د هرات ولايت په ګذرې ولسوالۍ کې په ۱۵۰ جريبه ځمکه د ميوه لرونکو ونو د پالنې د قوريې جوړول بله طرحه وه چې په دې غونډه کې تاييد شوه. د يادونې وړ ده چې د پانګونې پورته ذکر شوې طرحې د رياست‌الوزراء اقتصادي معاونيت تر چتر لاندې د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې له لورې په هراړخيز ډول څېړل شوې او د تاييدۍ په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شوې وې.

يادې پرېکړې د نهايي تصميم نيونې په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديٰ

## ملي تدارکاتو کمېسيون د ۳.۵ ميلیارده افغانيو په لګښت ۲۲ پروژې منظورې کړې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د عقرب مياشتې په دريېمه نېټه د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه کې ۳۵ پروژې د



منظورۍ لپاره وړاندې شوې.

۸ پروژې د يو لړ تعديلونو په واردولو سره او د ۳.۵ ميليارد افغانيو په ارزښت ۲۲ پروژې منظورې شوې. همدارنګه پنځه پروژې بيا په تدارکاتي پروسو کې د ستونزو له امله بېرته اعاده شوې.

په منظور شوو پروژو کې استنادي ديوالونه، کانالونه، په يوشمېر ولايتونو کې د ولسواليو ترمنځ غځېدلي سړکونه، د ميدان وردګ ولايت د لوړو زده کړو موسسې د ليليې وداني او په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا رسوني او توزيع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

## د پانګونې بين الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د ميزان مياشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په کابل ښار کې د معياري روغتون جوړولو او همداراز د برېښنا په بېلابېلو برخو کې د پانګونې طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادو طرحو مالي، تخنيکي او اقتصادي اړخونه په ښه ډول وارزوي او خپل راپور په ټاکلي وخت د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

# اخبار اقتصادی هفته

## آغاز همکاری‌های ریلی میان افغانستان، ایران و ترکیه

معین خط آهن وزارت فواید عامه امارت اسلامی افغانستان در راس هیاتی در سی‌وششمین نشست منطقه ای اتحادیه بین‌المللی خط آهن در ترکیه شرکت کرد. به گفته‌ی وزارت فواید عامه، در این نشست توافق شده است که اتصال شبکه‌ی خط آهن خاورمیانه و شبکه‌ی خط آهن اروپا به آسیای شرقی، از طریق توسعه‌ی خط آهن خواف–هرات تا مزار شریف، بهترین مسیر برای ترانزیت است. بر بنیاد این توافق، طرح ساخت خط آهن هرات–مزار شریف با همکاری مشترک افغانستان، ایران و ترکیه آغاز خواهد شد و هر سه کشور از منابع مالی، فنی و انسانی خود در این بخش استفاده خواهند کرد. محمد اشرف حق‌شناس، سخنگوی وزارت فواید عامه، در این باره گفت: «در نشست سه‌جانبه روی وصل خط آهن کشورهای ترکیه و ایران از طریق افغانستان به کشور چین، انتقال اموال تجاری از مسیر خط آهن خواف–هرات و همچنان ساخت خط آهن هرات تا مزار شریف و همکاری‌های سه‌جانبه بحث و تبادل نظر شد.» در همین حال، شماری از آگاهان اقتصادی با توجه به اهمیت اتصال افغانستان از طریق خطوط آهن با کشورهای منطقه و جهان، بر جلب سرمایه‌گذاری و گسترش همکاری‌های منطقه‌ای در این بخش تأکید می ورزند. میر شکیب میر، آگاه مسائل اقتصادی، در این باره گفت: «سرمایه‌گذاری روی توسعه‌ی خط آهن افغانستان و وصل شدن کشور از طریق آن به کشورهای منطقه، به ویژه اروپا، یک فرصت و نیاز اساسی است؛ زیرا توسعه‌ی خط آهن افغانستان می‌تواند منجر به افزایش حجم مبادلات تجاری میان افغانستان و کشورهای منطقه شود.» به گفته‌ی وزارت فواید عامه، هدف از سفر هیأت افغانستان به ترکیه، اشتراک در نشست اتحادیه‌ی بین المللی خط آهن، شرکت در نهمین جلسه‌ی گروه کاری انتقال بار از طریق دفتر منطقه‌ای خاورمیانه و حضور در نشست سه‌جانبه‌ی افغانستان، ایران و ترکیه برای تقویت همکاری‌های ریلی بوده است.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی




# تلاش افغانستان برای راه‌های بدیل تجارت با پاکستان



چند روز از بسته ماندن بنادر تجارتی میان افغانستان و پاکستان می‌گذرد. به گفته‌ی تجاران افغان، در این مدت میلیون‌ها دالر زیان مستقیم و غیرمستقیم به تاجران دو طرف وارد شده است. اکنون وزارت صنعت و تجارت امارت اسلامی افغانستان، با اشاره به این چالش‌ها و توقف ترانزیت کالاهای افغانستان از مسیر بندر کراچی، می‌گوید که برای ایجاد راه‌های بدیل تجارتی، تلاش‌ها آغاز شده است. نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت، می‌افزاید که این اقدام برای حمایت از دهاقین، تاجران و صنعت‌کاران افغان روی دست گرفته شده است. نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت امارت اسلامی افغانستان، در این باره گفت: «راه‌ها مسدود است و تولیدات افغانستان صادر نمی شود و از طرف دیگر، همچنان ترانزیت از طرف کشور پاکستان بند است. ما تلاش داریم که بتوانیم ان‌شاءالله راه های بدیل معقولی را ایجاد کنیم تا تولیدات افغانستان بازار مناسبی در منطقه پیدا کند. ما در مدت چهار سال گذشته برای این هدف تلاش داشته‌ایم و اکنون این تلاش‌ها را تسریع کرده‌ایم.» در همین حال، اتاق تجارت مشترک افغانستان و پاکستان می‌گوید که بسته شدن بنادر باعث وارد شدن زیان هنگفت به سکتور خصوصی دو کشور شده است و صادرات و ترانزیت میان دو طرف عملاً متوقف است. مسوولان این اتاق تاکید دارند که برای تقویت روابط اقتصادی، باید سیاست از تجارت جدا نگه‌داشته شود. شماری از تجاران افغان نیز می‌گویند که به دلیل بسته بودن این بنادر، بخشی از محصولات صادراتی‌شان فاسد شده است. آنان تلاش برای ایجاد بازارهای بدیل را گامی مثبت در راستای کاهش وابستگی تجارتی افغانستان به بازار پاکستان می‌دانند.

# دلتا انترنشنل عربستان و کام گروپ افغانستان در پروژه گازی تاپی همکار شدند




شرکت خصوصی کام گروپ اعلام کرده است که پس از امضای تفاهم‌نامه تولید دو هزار میگاوات برق در ماه سنبله، اکنون تفاهم‌نامه‌ای تازه با شرکت دلتا انترنشنل عربستان سعودی در بخش گاز به امضا رسانده است. به گفته این شرکت، تفاهم‌نامه میان دلتا انترنشنل و وزارت معادن و پترولیم افغانستان به هدف انتقال پایپ‌لاین گاز ترکمنستان به آسیای جنوبی (تاپی) امضا شده است؛ پروژه ای که ارزش آن ده میلیارد دالر برآورد می‌شود. محمد گل خلمی، مشاور ارشد کام گروپ، گفت: «نماینده رسمی دلتا انترنشنل به افغانستان آمد و در بخش انرژی گازی افغانستان، مشترکاً با شرکت کام انرژی، متعهد به سرمایه گذاری شده‌اند. این یکی از پروژه‌های بزرگی است که مردم افغانستان حدود بیست سال منتظر آن بوده‌اند. نظر به کمبود بودجه و تغییرات سیاسی، این پروژه به کندی پیش می‌رفت. منظوم پروژهٔ تاپی یا پایپ‌لاین انتقال گاز ترکمنستان به آسیای جنوبی است.» در همین حال، ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، در دیدار با رئیس اجرایی شرکت دلتا انترنشنل درباره اکتشاف، استخراج و تمدید خطوط انتقال گاز گفت‌وگو کرده است. زلمی خلیل‌زاد، نماینده پیشین ویژه ایالات متحده برای افغانستان، نیز در این دیدار حضور داشت. حمدالله فطرت، معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان، در باره این دیدار گفت: «رییس اجراییوی شرکت دلتا انترنشنل علاقه‌مندی خود را برای سرمایه‌گذاری در بخش نفت و گاز افغانستان ابراز داشت و تعهد سپرد که تجارب خود را با انجنیران افغان شریک خواهد ساخت.» در سوی دیگر، برخی از کارشناسان مسایل اقتصادی می‌گویند که سرمایه گذاری در بخش انرژی نه‌تنها وابستگی افغانستان به واردات برق را کاهش می‌دهد، بلکه فرصت‌های تازهٔ شغلی و توسعه‌ای را در کشور فراهم خواهد کرد.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه اباديٍ
هفته‌نامه آبادی





# نقش نظارت در تسریع کار و بهبود کیفیت پروژه های زیربنایی

**لیکوال:** نجیب الله

## مقدمه

در عصر امروز که نهادها و پروژه‌ها با سرعت روزافزون در حال توسعه و تغییر هستند، نظارت به‌عنوان یکی از راه های کلیدی مدیریت، نقش حیاتی در تحقق اهداف، بهبود کیفیت و تسریع در تطبیق امور ایفا می‌کند. نظارت نه‌تنها وسیله‌ای برای کنترول و ارزیابی فعالیت‌ها است، بلکه راه برای هدایت، هماهنگی و اصلاح مسیر فعالیت‌ها نیز به شمار می‌آید.بدون نظارت مؤثر، برنامه‌ریزی‌ها و پالیسی‌ها ممکن است به صورت درست تطبیق نگردد و به نتایج مطلوب منجر نشوند. در مقابل، نظارت دقیق، هدفمند و دوامدار سبب می‌شود تا روند کار از مرحله طرح ریزی و پلان تا تطبیق با کمترین انحراف پیش برود و کیفیت نهایی را تضمین گردد. معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء به هدف بهبود کار و تطبیق به موقع و موثر پروژه ها در سکتور های مختلف نظارت می کند. این امر موجب شده تا اداره های مختلف امارتی و شرکت های قراردادی کار پروژه های مربوطه خود را به صورت دقیق و به وقت معین انجام دهند. در این مقاله به‌صورت کوتاه به بررسی مفهوم نظارت، اهداف آن، و به‌ویژه نقش نظارت در تسریع کار و بهبود کیفیت و تلاش های معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء در این زمینه پرداخته می‌شود:

## نظارت معاونیت اقتصادی از تطبیق برخی پروژه ها

معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء امارت اسلامی افغانستان، در کنار سایر امور، از پروژه‌های بزرگ زیربنایی نیز نظارت می‌نماید. هدف از این نظارت آن است که این پروژه‌ها مطابق معیارهای تعیین‌شده و در زمان مشخص تکمیل گردند. در سال جاری نیز تیم تخنیکی معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء از شماری از پروژه‌هایی که در شهر کابل و ولایت‌ها موقعیت دارند، بازدید و نظارت به عمل آورده است. در اینجا میتوانیم از برخی پروژه های که در این روزها از آن نظارت به عمل آمده به صورت خلاصه یاد آوری نماییم: سرک چهارراهی هنگرها الی قصبه ، توسعه سب‌استیشن ارغندی، ساخت ترمینل ترانسپورتی ارغندی، سرک خیرخانه الی چهار راهی قمبر، کار ساخت انتظارخانه معیاری در میدان هوایی بین‌المللی کابل، کار ساخت لین دوم سرک کابل – غزنی، سرک گمرک الی میدان هوایی بین المللی کابل، سرک چهار راهی شهید الی هنگرها و لین دوم کوتل خیرخانه یا دآوری نمود. به‌دلیل نظارت دوامدار معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، در گذشته میان شرکت‌های قراردادی و سایر نهادهای تطبیق کننده این انگیزه ایجاد گردیده که کارهای آنان بدون شک مورد ارزیابی و نظارت قرار می‌گیرد و تلاش گردیده تا تمامی امور مربوط پروژه ها منظم و مطابق پلان عملی نموده اند. به همین دلیل، نتایج نظارت‌ها نشان داده است که کار در بسیاری از پروژه‌ها به‌گونهٔ مطلوب و مطابق با پلان پیش می‌رود. در عین حال، شرکت‌ها و نهادهای مربوط تعهد سپرده‌اند که کارهای خویش را در زمان تعیین شده تکمیل خواهند کرد.  این پروژه‌های اند که کار عملی آن را محترم ملا عبدالغنی برادر آخوند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، افتتاح نموده است.

## ارزش و اهداف نظارت در تطبیق بهتر پروژه ها

نظارت روند بررسی عملکردها، مقایسه آن با پلان و معیارهای تعین شده، جلو گیری و اصلاح انحرافات احتمالی است. در حقیقت نظارت میتواند میزان پیشرفت





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی


کارها را ارزیابی کنند، نقاط ضعف و قوت را شناسایی نمایند، در صورت بروز مشکل، اقدامات اصلاحی فوری انجام دهند و در نهایت، سطح مفیدیت و کیفیت را بالا ببرند. در روند های عملی، اشتباهات و انحراف‌ها اگر به موقع شناسایی نشوند، باعث تکرار کار و صرف وقت اضافی می‌شوند. نظارت دقیق باعث می‌شود مشکلات در همان مراحل ابتدایی کشف و اصلاح شوند، در نهایت پروژه یا فعالیت با سرعت بیشتری به نتیجه می‌رسد. وقتی کارکنان و شرکت های قراردادی بدانند که کارهایشان مورد ارزیابی قرار می‌گیرد، با دقت و انضباط بیشتری کار می‌کنند. این امر از سردرگمی، تأخیر و انتقال مسؤلیت میان افراد جلوگیری می‌کند و روند کار را آسانتر می‌سازد. به طور عمومی ناهماهنگی میان ادارات یکی از عوامل اصلی کندی کار است. نظارت منظم موجب می‌شود ارتباط و هماهنگی میان تمامی بخش‌ها حفظ گردد و تبادل اطلاعات به‌صورت منسجم انجام شود. کارکنان که می‌دانند عملکردشان ارزیابی می‌شود، معمولاً مسؤلانه‌تر عمل می‌کنند. این حس نظارت، در کنار تشویق به‌موقع ، موجب افزایش انگیزه و تسریع در انجام وظایف می‌گردد. کیفیت، یکی از شاخص‌های اصلی موفقیت در هر نظام کاری است. نظارت موجب می‌شود تا تمام فعالیت‌ها در چارچوب معیارهای و دستورالعمل‌های تعیین‌شده انجام گیرند. این کنترول مداوم، از کاهش کیفیت و بروز خطاهای تخنیکی جلوگیری می‌کند. نظام نظارتی باعث می‌شود هر واحد، مسؤل کیفیت کار خود باشد. این پاسخ‌گویی نه‌تنها کیفیت را تضمین می‌کند، بلکه اعتماد میان مسؤلین و کارکنان را نیز افزایش می‌دهد.

## نتیجه گیری

نظارت در تمامی امور حکومتی، به‌ویژه در پروژه‌های زیربنایی، ستون فقرات مدیریت به‌شمار می‌رود. اگر این روند به‌گونهٔ علمی و دوامدار انجام گیرد، می‌تواند در زمینهٔ تسریع کارها، هماهنگی میان نهادها و تقویت مسؤلیت‌پذیری نتایج شفاف و قابل ملاحظه به همراه داشته باشد. نظارت بر تطبیق پروژه‌ها همچنان می‌تواند تضمین‌کننده کیفیت کارها باشد و اطمینان دهد که در تمامی مراحل تطبیق، معیارهای پذیرفته شده رعایت و نهادینه می‌گردد. معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء در جریان چهار سال گذشته از تعدادی از پروژه‌های زیربنایی در سراسر کشور دیدار و نظارت به‌عمل آورده است. به‌برکت همین نظارت‌ها، نه‌تنها کیفیت پروژه‌ها بهبود یافته، بلکه پروژه‌های تحت نظارت در زمان معین و به‌صورت معیاری تکمیل گردیده‌اند. نظارت مؤثر همچنان شرکت‌های قراردادی مجری پروژه‌ها را مکلف ساخته تا معیارهای پذیرفته شده را در کار خود رعایت نموده و از ضیاع بی مورد زمان جلوگیری کنند.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکايي ډالر | ؋٦٦,٦٠ | ؋٦٦,٦٥ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ؋٢٢٨ | ؋٢٢٨ |
| ١٠٠٠ | ايراني تومن | ؋٠,٦١ | ؋٠,٦٢ |
| ١ | اروپايي يورو | ؋٧٧,٦٨ | ؋٧٧,٧٤ |
| ١ | روسي روبل | ؋٠,٨٤ | ؋٠,٨٤ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ؋٧٥٤ | ؋٧٥٥ |
| ١ | انگلیسي پونډ | ؋٨٩,٠١ | ؋٨٩,٠٨ |
| ١ | سعودي ریال | ؋١٧,٧٦ | ؋١٧,٧٧ |
| ١ | اماراتي درهم | ؋١٨,١٣ | ؋١٨,١٥ |
| ١ | چیني ین | ؋٩,٣٧ | ؋٩,٣٧ |

